مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۷مه | ۵۳۱مه گڼه

# کرونا ملي گواښ؛

## د ډاکټرانو سرتاسري اتحادیه: حکومت پخپل غفلت له ولس سره جفا کړې ده




۳

### د کرونا په مخنیوي کې د حکومت غفلت او د خلکو مسوولیت
۲ مخ

### له کرونا ویروس سره په نړیواله کچه د چین مبارزه
۲ مخ

### له نامنطقي کسانو سره د مقابلې لپاره اووه کلیدي لارې
۳ مخ

پر جنایت اعتراف؛

## استرالیایي ځواکونو په افغانستان کې په قصدي توگه ملکیان په نښه کړي

د استرالیایي ځواکونو یوه پخواني غړي تازه ویلي، همکارانو یې په لوی لاس په افغانستان کې ملکي وگړي په نښه کړي دي. استرالیایي رسنیو او ځینو څېړنیزو بنسټونو په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو په تېره د استرالیایي ځواکونو د جنگي جنایتونو پلټنه پیل کړې ده.

اې بي سي نیوز په یوه مطلب کې لیکلي چې استرالیایي ځواکونو په لوی لاس ملکي، بې وسلې او بې دفاع افغانان په نښه کړي او له کوم جرم او څېړنې پرته یې په بې رحمانه ډول وژلي دي.

دغه رسنۍ ته د استرالیا د ځانگړو ځواکونو یوه پخواني غړي ویلي چې دی په ځینو مواردو کې د خپلو همکارانو له لوري د ملکي افغانانو د وژلو شاهد و.

د ده په خبره، حکومت باید په دې تړاو جدي څېړنه وکړي او هغه پوځیان باید محاکمه کړي چې جنایت یې کړی دی او عام خلک یې وژلي دي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم پر استرالیایي ځواکونو دغه ډول ادعاوې شوې، خو د استرالیا حکومت د ډېرو راپورونو له خپرېدو سره سره د خپلو مجرمو پوځیانو پر وړاندې هېڅ راز اقدام نه دی کړی. د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د جرمونو نړیوالې محکمې هم اعلان وکړ چې په افغانستان کې له ۲۰۰۱ ز کال راپدېخوا د مېشتو بهرنیو او په ځانگړې توگه امریکایي ځواکونو د جنگي جنایتونو په اړه څېړنې کوي، چې دغه چاره د امریکایي چارواکو له مخالفت سره هم مخ شوې ده.


## د اداري فساد او جنايي جرمونو په گډون، تېرکال تر ۴۰ زرو ډېرې قضیې څېړل شوې



۳ مخ

څېره
۴ مخ

## هیروډېت



هیروډېت د نړۍ لومړنی تاریخ لیکونکی بلل کېږي. نوموړی یوناني تاریخ لیکونکی دی چې په یوناني ژبه یې د خپلو سفرونو په اړه لیکل کړي دي. دی همدا راز د نړۍ لومړنی تاریخ لیکوال بلل کېږي چې اثار یې تر موږ پورې را رسېدلې دي.

## کرنې ریاست: روان کال په کندهار کې د شاتو تولید ۲۶ ټنو ته رسېدلی



د کندهار کرنې ریاست چارواکو ویلي، روان کال په دغه ولایت کې د شاتو مچیو فارمونو ۲۶ ټنه شات تولید کړي چې د تېر کال په پرتله ۱۸ سلنه ډېروالی پکې راغلی دی.

د کرنې ریاست د مالدارۍ د ترویج مدیر انجنیر محمدالله نوري ویلي، په دغه ولایت کې د شاتو مچیو ۱۰۲ لوی او کوچنې فارمونه شته چې هر فارم له ۵ تر ۴۵۰ صندوقه مچۍ لري.

هغه زیاته کړې، په روان کال کې له دغو فارمونو ۲۶ زره کیلوگرامه(۲۶ ټنه) شات تر لاسه شوي چې د تېر په پرتله پکې ۸ زره کیلوگرامه(۸ ټنه) ډېروالی راغلی دی.

د یادونې ده چې تېر کال په کندهار کې ۱۸ زره کیلوگرامه(۱۸ ټنه) شات تر لاسه شوي وو.

نوموړي ویلي، په کندهار کې د شاتو مچیو فارمونه مخ پر ودې روان دي او هره ورځ لسگونه کسان د کرنې ریاست ته ورځي او د فارمونو جوړولو اړوند مشورې او معلومات تر لاسه کوي.

## رحیمی: هفته جاری اولین گروه زندانیان طالبان آزاد خواهد شد



سلام رحیمی، وزیر امور صلح دولت افغانستان گفته است که در همین هفته اولین گروه زندانیان طالبان آزاد خواهد شد. وی همچنان گفته است که از طرف حکومت افغانستان در این مورد مانعی وجود ندارد، اما طالبان باید گام‌هایی را در راستای تعهداتشان بردارند.

آقای رحیمی می گوید، کاهش دوام‌دار خشونت یک امتحان برای طالبان است که باید نشان دهند که می‌توانند. نیروهای دولتی هیچ حرکتی نکردند که باعث بالا بردن سطح خشونت‌ها شود.

آقای رحیمی همچنین گفته است، توان و اراده طالبان مهم است. اگر طالبان خشونت‌ها را کاهش ندهند و پابند نمانند، به این معناست که به روند صلح پابند نیستند.

بناً به فرمان محمد اشرف غنی، رئیس جمهور کشور، قرار بود بخشی از زندانیان طالبان روز گذشته آزاد شوند، اما نشدند؛ که آقای رحیمی دلیل آن را شروع نشدن گفتگوها با طالبان دانست و گفت، مذاکرات هم باید شروع می‌شد و یکجا پیش می‌رفت. اما طالبان هر نوع گفتگو و تماس با حکومت آقای غنی را رد می کند.

با آنهم تاخیر پیش آمده از نظر آقای رحیمی عادی است، روندهای پیچیده چند روز پس و پیش می‌شود.

آقای رحیمی در پاسخ به سوالی درباره نقش امریکا گفته است: «با امریکا در جنگ شریک بودیم و در صلح نیز شریک استیم. شراکت را نگه می‌داریم و پروسه صلح را به پیش می‌بریم.»

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

### د کرونا په مخنیوي کې د حکومت غفلت او د خلکو مسوولیت

کرونا ویروس په چټکۍ سره په نړۍ کې خپرېږي. له چین وروسته یې په ایران، اروپا او امریکا کې پېښې زیاتې دي او لسګونه زره کسان پرې اخته شوي دي. د دغه ویروس یوه څپه له ایران څخه پر افغانستان هم راغلې ده. تر پرون پورې چارواکو تایید کړې وه چې ۲۱ کسان پر دې ناروغۍ اخته دي. لومړنۍ رسمي پېښې په هرات کې وې، خو اوس په نورو ولایتونو کې هم پېښې ثبت شوې دي. داسې وېره ده چې نور کسان به هم پر دې ناروغۍ اخته وي، خو له دې امله چې له زکام ناروغۍ سره یې ډېر توپیر نه کېږي، نو ځکه خلک روغتیایي مرکزونو ته مراجعه نه کوي.
له بده مرغه حکومت له دې چارې سره ناسم او له بې پروایۍ ډک چلند کړی دی. هره ورځ زرګونه افغانان له ایران څخه افغانستان ته راتلل، خو حکومت له ایران سره سرحد همداسې پرانیستې پرې اېښی و. په هرات کې د لومړنیو معایناتو لپاره یو څه وو، خو دا په هېڅ ډول کافي نه وو. لومړی خو د ناروغۍ د تشخیص لپاره تخنیکي وسایل او هڅې پوره نه وې او دویم دا چې له ایران څخه را ستنېدونکي زرګونه افغانان پرې ښودل شول چې په ټول افغانستان کې خواره شي. لومړی خو باید ډیپلوماټیکي هڅې شوې وی چې د افغانانو د دغه راتګ مخه نیول شوې وی. که دا ناشونې وه، نو پکار وه چې راتلونکي کسان د کره معاینې تر څنګ قرنطین شوي هم وی. حکومت وایي، دا کار ناشونی و او دومره امکانات نه وو، خو که اراده وی، نو امکانات پیدا کېدل. کله چې د ارګ واکمن د خپلو سیاسي او شخصي موخو لپاره میلیونه ډالره په یوه ورځ لګوي، دا هم شونې وه چې په هرات کې دا کار وشي. یا لږ تر لږه د دغو کسانو لپاره باید کورنی قرنطین توصیه شوی وی او د ولایتي ادارو پر مټ د دوی قرنطین څارل شوی وی. له بده مرغه د واک او ځواک په مستۍ کې ورکو چارواکو ولس کرونا ته پرېښود چې له بده مرغه په چټکۍ سره خپرېږي. اوس په څو ولایتونو کې دا پېښې ثبت شوې دي او داسې وېره ده چې اخته کسانو به ویروس نورو ته هم لېږدولی وي، ځکه چې دوی له نورو خلکو سره هم په اړیکه کې وو. د دې لپاره چې له ایران څخه را ستانه شوي د افغانستان ټولو ولایتونو ته تللي دي، نو په ټولو ولایتونو کې د کرونا ویروس د خپرېدو وېره ده. له بلې اړخه حکومت پر دې ویروس د اخته کسانو د درملنې او آن د مؤظفو ډاکټرانو د ساتنې لپاره هم پوره او وړ تدابیر نه لري چې دا هم د ویروس له خپرېدو سره مرسته کوي.
خلکو ته پکار ده چې نور پر دولت ډېر حساب ونه کړي، دولت به خپل کار کوي، خو خلک باید له خپله اړخه کرونا ویروس جدي ونیسي. دوی باید د متخصصینو نظریاتو ته غوږ ونیسي، ټولې لارښوونې مراعات کړي، خپلې اړیکې کمې کړي، په یو ځای له را ټولېدو ډډه وکړي، د خپل بدن مقاوت لوړ وساتي، روحیه یې لوړه وي او له ټولو هغو ځایونو ځانونه لرې وساتي چې د ویروس د خپرېدو وېره پکې وي.

# له کرونا ویروس سره په نړیواله کچه د چین مبارزه

سرچینه: د چین نړیوالې راډیو پښتو څانګه

د چیني کارپوهانو ډله د ایران پلازمېنې تهران ته رسېدلې ده. د چین د طب او روغتیا بنسټ د مارچ په ۱۲مه اعلان وکړ چې په چین کې د ناول کرونا ویروس ساري ناروغۍ د خپرېدو لویه څپه تېره شوې ده. د دې تر څنګ، دغه ناروغي له چین پرته په نورو ۱۳۰ هېوادونو او سیمو کې په پراخه کچه د خپرېدو په حال کې ده.
د چین د دولت رییس شي جین پینګ د مارچ د ۱۲مې په شپه د ملګرو ملتونو د سرمنشي انتونیو ګوتریش په بلنه له نوموړي سره په ټلیفوني خبرو کې وویل: «د ناول کرونا ویروس د ساري ناروغۍ پېښې په همدې موده کې په زیاتو هېوادونو او سیمو کې رامنځ ته شوې چې وضعیت یې د اندېښنې وړ دی. نړیواله ټولنه باید سمدلاسه ګامونه پورته کړي او د دې ناروغۍ د وقایې او کنټرول لپاره اغېزمنې نړیوالې همکارۍ وکړي او له دې ناروغۍ سره په مبارزه کې باید د بریالیتوب د تر لاسه کولو لپاره ځواکمن قوتونه راغونډ کړي.» د چین یوه طبي ډله چې له ۹ کارپوهانو څخه جوړه شوې، پر ځایي وخت د مارچ د ۱۲مې په شپه ایټالیا ته ورسېده. د چین نورې زیاتې طبي ډلې به د مرستو لپاره بهرنیو هېوادونو ته هم ولېږل شي.
ـد نړۍ لپاره د ناول کرونا ویروس ساري ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي ټینګ دفاعي دیوال، چین د ناول کرونا ویروس د ساري ناروغۍ تر رامنځ ته کېدو وروسته، پر وخت د هېواد په ستره برخه کې د عامې روغتیا د لویو او بېړنیو پېښو ضد د لومړۍ کچې حالت اعلان کړ. یو میلیارد او څلور سوه میلیونه چینایانو د دې ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره یو لاس همکاري کړې ده.
چین له دوو اونیو څخه په کمه موده کې پر نوموړې ناروغۍ د سختو اخته کسانو د درملنې لپاره دوه مجهز روغتونونه او ګام په ګام ۱۴ لنډمهالي روغتونونه جوړ کړي دي. د مارچ تر ۸مې پورې د چین په بېلابېلو سیمو کې درې سوه او شپږ څلوېښت طبي ډلې او دوه څلوېښت زره او شپږ سوه طبي کارکوونکي هوبې ولایت ته لېږل شوي دي.
چین د دې ناروغۍ د وقایې او کنټرول لپاره کلک دفاعي دیوال جوړ کړی چې د دغه هېواد د چټک غبرګون او تدبیرونو له امله نړۍ ته د دې ناروغۍ د وقایې او کنټرول مهم وخت ورکړل شوی. د ستونزو پر وړاندې د ګډو کوښښونو او همکارۍ په اړه د نړیوالې ټولنې د ګډو نظریو تر لاسه کول، په چین کې د ناول کرونا ویروس د ساري ناروغۍ له خپرېدو وروسته، د چین د دولت رییس شي جین پینګ ډېر ځله د څه باندې لسو هېوادونو له مشرانو سره ټلیفوني خبرې وکړې او د کمبوډیا له لومړي وزیر او د مغولستان له ولسمشر او د روغتیا نړیوال سازمان له عمومي مدیر سره یې کتنې او خبرې اترې کړې دي. شي جین پینګ نه یوازې د دې ناروغۍ پر وقایې او کنټرول ټینګ باور ښودلی، بلکې د چین د روان کال د اقتصادي او ټولنیزو پرمختیایي موخو د پوره کېدو په اړه ډاډمن دی. د چین د بهرنیو چارو وزیر وانګ یي هم د څه باندې ۲۰ هېوادونو له خارجه وزیرانو سره ټلیفوني خبرې کړې دي. د چین د دغو ګامونو له کبله نړیوالې ټولنې د ناول کرونا ویروس له ساري ناروغۍ سره د ګډې مبارزې په اړه ګډه نظریه تر لاسه کړې ده.

**نړیوالې ټولنې ته د معلوماتو پر وخت خپرېدل**

له هغې ورځې چې د جنورۍ په ۳مه د چین په ووهان ښار کې ((د نامعلوم ویروس پر ساري ناروغۍ اخته ناروغان پیدا شول)) خبر ورکړ، چین نړیوالې ټولنې ته د دې ناروغۍ په اړه د معلوماتو په ورکولو او خپرېدا باندې پیل کړی دی. د چین طبي ارګان د جنورۍ له ۲۱مې هره ورځ په هېواد کې د دې ناروغۍ د وضعیت په اړه خبرونه ورکړي او ورکوي یې. چین د روغتیا نړیوال سازمان د کارپوهانو ډلې دوه ځلې لیدنې منلې او ورسره یې همکاري کړې ده.
چیني کارپوهانو د جنورۍ په ۳مه لومړنۍ قضاوت وکړ چې ناول کرونا ویروس د رامنځ ته شوې ناروغۍ سرچینه ده. د روغتیا نړیوال سازمان د جنورۍ په ۱۲مه اعلان وکړ چې د چین د معلوماتو شریکولو له لارې یې د ناول کرونا ویروس د جین د ترتیب او جوړښت په اړه معلومات تر لاسه کړي. چین د نوموړي سازمان، د جنوب- ختیځې اسیا د هېوادونو ټولنې، اروپایي ټولنې، د شانګهای همکارۍ سازمان په ګډون، له نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو او د جاپان، کوریا جمهوریت، روسیې، جرمني، فرانسې، امریکا او لاووس په ګډون، له اړوندو هېوادونو سره د کارپوهانو د بحثونو، د لرې واټن غونډو او نورو لارو چارو له لارې تر ۲۰ زیات ځلې تګ راتګونه کړي او پر وخت یې ورسره د چین تر لاسه شوي اړوند معلومات، تجربې او د درملنې پلانونه شریک کړي دي.

**د خپلو تجربو شریکول**

اوس په چین کې د ناول کرونا ویروس د ساري ناروغۍ د وقایې او کنټرول وضعیت او د عادي کارونو او تولیدي چارو د بیا پیل حالت مخ پر ښه والي دی. خو د نړۍ په څه باندې سلو هېوادونو او سیمو کې د دې ناروغۍ پېښې تر سل زرو زیاتې شوې، دغه ناروغي په نړۍ کې په پراخه کچه د خپرېدو په حال کې ده.
چین د هېواد په دننه کې د دې ناروغۍ د وقایې او کنټرول تر څنګ، له نورو هېوادونو سره د خپلو اړوندو تجربو د شریکولو او د درملو او واکسین د څېړنې په ګډون، د هر اړخیزو نړیوالو همکاریو په هڅه کې دی او له هغو هېوادونو سره یې مرستې کړې او کوي یې چې په دغو هېوادونو کې دغه ناروغي رامنځ ته شوې او د خپرېدو په حال کې ده.
تر اوسه پورې چین له څه باندې سلو هېوادونو او لسو نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو سره د دې ناروغۍ د وقایې، کنټرول او درملنې پلانونه او نور زیات د ټکنالوژۍ سندونه شریک کړي دي. په چین کې یې د ۵۰ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو له ډیپلوماټانو او استازو سره د دې ناروغۍ د وقایې او کنټرول په اړه د معلوماتو د شریکولو غونډه تر سره کړې. کوریا جمهوریت، جاپان او ایټالیا ته یې مرستندویه توکي او ازمایښتي سامان الات لېږلي. ایران، عراق او ایټالیا ته یې د چیني کارپوهانو ډلې استولې. د روغتیا نړیوال سازمان ته یې شل میلیونه امریکایي ډالره بسپنه ورکړې او نورې زیاتې هلې ځلې یې کړې دي.
له دې ناروغۍ سره د مبارزې په اړه د چین تجربې نړۍ ته د خپرېدو په حال کې دي.

**د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنې له مفکورې څخه الهام**

د چین د دولت رییس شي جین پینګ د مارچ په ۱۲مه د ملګرو ملتونو له سرمنشي انتونیو ګوتریش سره په ټلیفوني خبرو کې پر دې ټینګار وکړ چې «د ناول کرونا ویروس د ساري ناروغۍ له رامنځ ته کېدو څخه یو ځل بیا ښکاري چې انسانان د ګډ برخلیک په ټولنه کې دي. د اقتصاد د نړیوال کېدو په زمانه کې به د دې ناروغۍ په شان نورې بېړنۍ او لویې پېښې بیا رامنځ ته شي او انسانان به له مسلسلو نویو ننګونو سره مخ وي. نړیواله ټولنه باید د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنې مفکوره جوړه کړي، متقابلې مرستې دې وکړي، د ننګونو د له منځه وړلو لپاره دې همکاري وکړي او د ښکلې ګردې کُرې یانې د انسانانو د ګډ کور د ابادۍ لپاره دې هڅې وکړي.»
چین له کرونا ویروس سره د نړیوالې مبارزې لپاره خپلې تجربې او وړاندیزونه وړاندې کړي او په راتلونکې مرحله کې به له ټولې نړۍ سره د دې مبارزې په لومړۍ کرښه کې د وروستي بریالیتوب تر را رسېدو پورې خپلو کوښښونو او هڅو ته ادامه ورکړي.

---

## سیاستوال: له طالبانو سره د حکومت له لوري د مذاکره کوونکي پلاوي په اړه مشوره نه ده شوې

ځینې افغان سیاستوالو ویلي، له طالبانو سره د حکومت له لوري د مذاکره کوونکي پلاوي د ترکیب په اړه سلا مشوره نه ده شوې.
د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي ویاند فضل غني حقمل ویلي چې که څه هم د سولې پروسې په اړه له حکومت سره د دغه ګوند له لوري وخت په وخت مسایل شریکېږي، خو له طالبانو سره د مذاکره کوونکي پلاوي په اړه ورسره هېڅ ډول مشوره نه ده شوې.
هغه ویلي: «د دغه پلاوي د تشکیل په اړه هغه ډول چې پکار وه، تفاهم نه دی شوی، پکار خو دا وه چې له طالبانو سره د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره د پلاوي د ترکیب په اړه له حزب اسلامي او نورو سیاسي ګوندونو سره مشورې شوې وی، خو تر اوسه یې په اړه له موږ سره هېڅ ډول خبرې نه دي شوې.»



په ورته وخت کې بل سیاستوال او پخواني جهادي مشر محمد اسماعیل هم ویلي چې له دوی سره هم په دې اړه خبرې نه دي شوې او دا پلاوی باید ټول‌شموله او داسې کسان یې غړي وي چې وکړای شي طالبانو ته د سولې په اړه قناعت ورکړي.
اسماعیل ویلي چې حکومت باید په ټاکل شویو ۱۳۵ ورځو کې د وخت له ضایع پرته له طالبانو سره د سولې خبرې اترې پیل کړي.
هغه زیاته کړې: «حکومت نه یوازې دا چې د دې پلاوي په اړه له هېچا سره مشوره نه ده کړې، بلکې غواړي داسې پلاوی طالبانو ته ور واستوي چې هغوی نه شي کولای ۴۰ کلنه جګړه پای ته ورسوي، نو زه په دې باور یم چې دا خبرې اترې به د خلکو او افغانستان د سولې په ګټه نه وي.»
بلخوا عبدالله عبدالله ته نږدې کس او سلاکار یې فضل احمد معنوي ویلي چې د ولسمشر غني او عبدالله عبدالله د لوړې تر مراسمو وروسته، د مذاکره کوونکي پلاوي د ترکیب په اړه هېڅ بحث نه دی شوی، خو د پلاوي کوم نوملړ هم چې چمتو شوی، دوی ته د منلو نه دی.
معنوي ویلي: «د دغو دوو حکومتونو له جوړېښت وروسته د سولې د مذاکراتو د پلاوي په اړه کوم بحث نه دی شوی، خو تر دې وړاندې یو څه نومونه رد بدل شوي وو، خو هغه موږ ته د منلو نه دی، د ښاغلي خلیلزاد په راتلو سره به په دې اړه خبرې وشي، خو یو څه چې قطعي دي هېڅ لېست به د ارګ په محور نه جوړېږي.»
خو د ولسمشر غني د عامه او ستراتېژیکو اړیکو سلاکار وحید عمر ویلي چې د حکومت له لوري له طالبانو سره د سولې خبرو د پلاوي نوملړ وروستی شوی او ژر به له خلکو سره شریک شي.

# کرونا ملي گواښ؛

## د ډاکټرانو سرتاسري اتحادیه: حکومت پخپل غفلت له ولس سره ستره جفا کړې ده



د کرونا ویروس د مثبتو پېښو له ډېرېدو سره هممهاله د عامې روغتیا وزارت کرونا یو ملي گواښ وباله. له دې سره جوخت د افغانستان د ډاکټرانو ملي اتحادیه وایي چې حکومت د کرونا د خپرېدو له امله له ولس سره ستره جفا کړې ده. دوی وایي، حکومت په دې برخه کې غفلت کړی دی او رامنځ ته شوې کمښتې هم مسلکي کسان نه دي. د دوی په خبره، که حکومت اړین، جدي او رښتیني اقدامات ونه کړي، نو کرونا به په هېواد کې یو ستر ناورین رامنځ ته کړي.

د تېرې ورځې تر ناوخته په هېواد کې د کرونا وژونکې ناروغۍ ۲۱ مثبتې پېښې ثبت شوې دي. د عامې روغتیا وزارت کارکوونکي وایي چې دوی جدي اقدامات پیل کړي دي او له دې پدېدې سره د مبارزې په لومړۍ کربښه کې دي. د عامې روغتیا وزیر فیروزالدین فیروز پرون په یوه خبري غونډه کې وویل، دوی تر خپلې وسې هڅه کوي چې د دې پدیدې مخه ونیسي. د فیروز په خبره، تر دې دمه ۲۱ مثبتې پېښې ثبت شوې دي او لا هم مشکوکې پېښې تر څېړنې لاندې دي.

د عامې روغتیا وزیر همدا راز په خپلو خبرو کې کرونا یو ملي گواښ بللی دی او په خبره یې، د هر افغان دنده ده چې خپل شاوخوا خلک وپوهوي او د یوې رسنۍ دنده تر سره کړي. فیروز زیاته کړې: «موږ له یو ملي گواښ سره مخ یو، د عامې روغتیا وزارت له دې بدې پدیدې سره د مبارزې یو مهم ادرس دی. پر خلکو هم غږ کوم چې هر یو مو یوه رسنۍ شئ، هر یو مو یو روغتیایي مبلغ شئ، زموږ ساده پیغامونه نورو ته ورسوئ او پرې عمل وکړئ، څو خپل خلک له دې شر څخه وژغورو.»


نوموړي همدا راز ټینگار وکړ چې د عامې روغتیا وزارت ټول پرسونل په لومړۍ کرښه کې دی او روغتیایي خدماتو اضطراري او عاجل حالت خپل کړی دی. هغه د دې ویروس په مخنیوي کې تر ټولو مهم گام د خلکو همکاري بولي او په خبره یې، د ولس په همکارۍ یې د پراختیا مخه نیول کېدلی شي.

له دې سره جوخت د افغانستان د ډاکټرانو سرتاسري اتحادیه بیا حکومت په بې پروایۍ تورنوي. د دې اتحادیې رییس ډاکټر فیاض ساپی وایي، حکومت د کرونا ویروس د پراختیا په برخه کې له ولس سره ستره جفا کړې ده. نوموړي له مسیر ورځپاڼې سره په خبرو کې وویل، حکومتي مشران پر خپلو سیاسي ناندریو بوخت دي او له ولس سره یې د کرونا د مخنیوي په برخه کې ستره جفا کړې ده. هغه زیاتوي: «حکومت په خپلو ناندریو بوخت دی. کلینران او غیر مسلکي کسان یې په خپلو کمېټو کې ځای پر ځای کړي دي. له کدرونو یې کار نه دی اخیستی. د کډوالو د راتگ لپاره یې تدابیر نه لرل او لا یې هم نه لري. دوی یوه ستره جفا د ولس په حق کې کړې ده.»

د ډاکټر ساپي په خبره، د دغه ویروس تداوي نشته، خو حکومت که په خپلو ناندریو او کشمکشونو نه وی بوخت او پر وخت یې کار اهل کسانو ته سپارلی وی، نو د ویروس د پراختیا مخه نیول کېده. ساپی وایي، د افغانستان ستره ستونزه له ایرانه د زرگونو کډوالو راتگ دی چې باید قرنطین شوي وای. ساپی وایي: «پنځوس زره کډوال له ایرانه راغلل، دا باید قرنطین شوي وای. دوی باید د مسلکي کسانو له لوري په کتهگوریو ویشل شوي وای. اما حکومت غیر مسلکي کسانو ته دندې سپارلې دي. دوی هرات ته اړین توکي نه دي استولي او یوه ناورین ته یې لار هواره کړې ده.»

ښاغلي ساپي ادعا وکړه چې چارواکي لا هم خلکو ته دروغ وایي او آن د کابل په مرکزي مهمو روغتونو کې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره هېڅ تیاری نشته. نوموړي وویل چې آن مسوولو ډاکټرانو ته ځانگړې جامې او چپنې نه دي ورکړل شوې. په ورته وخت کې د کابل د ابن سینا روغتون یو بل ډاکټر نادر افغان هم پر حکومت سختې نیوکې وکړې او د کرونا ویروس په مخنیوي کې یې پر غفلت تورن کړ. دوی دواړو پر خلکو غږ وکړ چې پر حکومت د تکیې پر ځای په خپله تدابیر ونیسي او ټولې هغه لارې چارې مراعات کړي، چې د کرونا ویروس په مخنیوي کې رول لري.

## ارگ: د لویو غونډو، د ودونو تالارونو، حمامونو او د لامبو حوضونو فعالیتونه دې بند شي



د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه اړیکو او ستراتېژیکو چارو ستر سلاکار وحید عمر ویلي، له ټولو عمومي راټولېدنو باید مخنیوی وشي.

نوموړي ویلي: «له دې ځایه غواړم ووایم چې دغه پرېکړه قطعي ده، له ټولو راټولېدنو چې د خلکو گڼه گوڼه پکې رامنځ ته کېږي، باید مخنیوی وشي، زموږ هیله د کورنیو چارو وزارت او کابل ښاروالۍ څخه دا ده چې د ودونو ټول تالارونه او هوټلونه باید خپلې برنامې لغوه کړي.»

عمر زیاته کړې، ټول عمومي حمامونه، د لامبو وهنې حوضونه او سوناگانې باید خپل فعالیتونه ودروي او که چا سرغړونه وکړه، قانوني چلند به ورسره وشي. د ولسمشر سلاکار زیاته کړې، د برېښنایي پېژندپاڼو، د احوال نفوس اداري او پاسپورټ ریاست ته هم لاړښوونه کېږي چې خپل فعالیتونه داسې منظم کړي، څو د خلکو د راټولېدنې باعث نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د کرونا ویروس د تازه پنځو نورو مثبتو پېښو د ثبت خبر ورکړ.

په همدې حال کې په کابل کې ځینې مدني فعالینو هم تېره ورځ د یوې راټولېدنې په ترڅ کې له کرونا ویروس سره د مبارزې لپاره د جدي اقداماتو غوښتنه وکړه. دغو مدني فعالینو «له کرونا سره باید ټوکې ونه شي» په نوم په دې راټولېدنه کې پر حکومت او ټولو افغانانو غږ وکړ چې د دغه ویروس د مخنیوي لپاره بې‌تفاوته پاتې نه شي.

د دې راټولېدنې یوه غړي احمد یار بشار ویلي: «زموږ د دې راټولېدنې هدف دا دی چې راځئ له کرونا ویروس سره ټوکې ونه کړو، له هغې باید ځان وژغورو، په دې شعار کې زموږ هدف دا دی چې هر وگړی کولای شي له ماسک، ویټامین لرونکو خوړو او همدا راز د روغتیا لپاره له سالمې حفظ‌الصحې څخه استفاده وکړي او دا د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره یوه اسانه لاره ده.»

د یادونې ده چې وړمه ورځ افغان ولسمشر د کرونا ویروس د گواښ له ډېرېدو څخه د مخنیوي په پار د ځانگړي حکم پر بنسټ په ټول هېواد کې دولتي او خصوصي پوهنتونونه او ښوونځي د حمل یا وری میاشتې تر پایه او ورسره ټول ورزشي پروگرامونه وځنډول.

## لویه څارنوالي: د اداري فساد او جنایي جرمونو په گډون، تېرکال تر ۴۰ زرو ډېرې قضیې څېړل شوې




د لویې څارنوالۍ چارواکو ویلي چې د اداري فساد او جنایي جرمونو په گډون، په تېر مالي کال کې تر څلوېښت زره ډېرې قضیې ثبت او څېړل شوې دي.

د لویې څارنوالۍ په راپور کې راغلي چې په تېر مالي کال کې ۴۱۰۲۶ قضیې ثبت او څېړل شوې چې له دې ډلې ۲۱۴۹۲ د جنایي جرمونو، نږدې پنځه زره یې د نشه یي توکو، تر دوو زرو ډېرې د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي او له ماشومانو سره د زور زیاتي په اړه دي.

په راپور کې زیاته شوې چې له دې شمېرې یې څلور زره د کورنې او بهرنې امنیت پر وړاندې د جرایمو، درې زره د عسکري جرایمو، نږدې ۱۶سوه د اداري فساد، ۶۹۱ د انسان تښتونې او ۱۸۶ هم د ټاکنیزو جرمونو قضیې شاملې دي.

سرچینې ویلي چې نږدې دوه زره د اداري فساد قضیې هم په دې شمېره کې شاملې دي چې یوازې ۲۹۱ یې د اداري فساد د درنو جرمونو قضیې دي.

د راپور د معلوماتو له مخې، د اداري فساد د درنو جرمونو په قضیو کې یو معین، درې جنرالان، اووه ډگروالان، لس د ټاکنیزو کمېسیونونو کمېشنران، دوه والیان، یو ښاروال او درې د ولایتي شورا غړي شامل دي.

راپور زیاتوي چې د اداري فساد پر وړاندې ۲۹۱ قضیې په ملکي او نظامي برخو کې ثبت شوې دي چې ځینو ته یې رسېدنه شوې او ۱۰۳ قضیې یې تر کار لاندې دي.

د لویې څارنوالۍ د راپور له مخې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي او ماشومانو پر وړاندې د سرغړونې قضیو د ثبت شمېر د تېرو کلونو په پرتله لوړ شوی چې دا یو ښه خبر دی.

د سرچینې په خبره، د قتل او ترور د ۲۷ قضیو په گډون، د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۶ قضیې هم ثبت شوې دي.

د دغه راپور پر بنسټ، د اداري فساد د قضیو له څېړلو سره شاوخوا ۱۱۳ میلیونه افغانۍ او ۴۲ زره امریکایي ډالره د دولت خزانې ته ورکړل شوې دي.



## د روغتیا نړیوال سازمان: اروپا د کرونا ویروس د خپرېدو پر مرکز بدله شوې ده

د روغتیا نړیوال سازمان ویلي چې پر کرونا ویروس د ټولو اخته کسانو شمېر له ۱۶۲ زرو او له دې کبله د مړو شمېر له ٦ زرو اوښتی دی.

په ورته وخت کې د دغه ویروس چټک خپرېدو نړۍ د اقتصادي بحران له گواښ سره مخ کړې؛ ځکه کاروبار او سوداگري په ټپه دربدلي او د هېوادونو مرکزي بانکونه اړ شوي دي چې د مالي بازارونو د سقوط د مخنیوي لپاره جدي اقدامات وکړي.

په اروپا کې چې د روغتیا نړیوال سازمان د کرونا ویروس د خپرېدو مرکز بللی، ډېری هېوادونو د وقایوي اقداماتو په ترڅ کې ورځنۍ چارې او نړیوالې الوتنې ځنډولې دي.

په اسپانیا کې وروسته له هغې چې د ۲۰۰۰ نویو پېښو راپور ورکړل شو، د دغه هېواد حکومت تېره ورځ بېړنی حالت اعلان کړی دی.

د راپورونو له مخې، په اسپانیا کې پر یاد ویروس د اخته کسانو شمېر ۸ زرو ته نږدې شوی چې له ایټالیا وروسته دا په اروپا کې تر ټولو لوړه شمېره ده.

بلخوا چینایي چارواکو بیا ویلي چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس په پېښو کې د پام وړ کموالی راغلی دی، خو د یاد هېواد چارواکو په هوایي ډگرونو کې د بهرنیو مسافرو د روغتیایي کنټرول لپاره تدابیر ببرته جدي کړي دي.

دا تدابیر وروسته تر هغې جدي شوي چې د راپورونو له مخې، د شنبې په ورځ په چین کې د کرونا ۱٦ پېښې په هغو مسافرو کې رامنځ ته شوې چې دغه هېواد ته تللي دي.

په روسیه کې بیا د کرونا د پېښو شمېر ٦٣ ته رسېدلی او دغه هېواد هغه ربلونه هم درولي چې د اوکراین، لاتویا او مالدووا ترمنځ یې تگ راتگ کاوه.

په ایران کې د کرونا د مثبتو پېښو شمېر ۱۳ زرو ته رسېدلی او د یکشنبې تر ماښامه له دې امله د مړو شویو کسانو شمېر هم ۷۲۰ ته رسېدلی و.

د ایران ایسنا خبري اژانس د دغه هېواد د کرونا پر وړاندې د مبارزې چارواکو په حواله راپور ورکړی چې په دغه هېواد کې روغتیایي مرکزونه ورځ تر بلې د کرونا پر وړاندې د مبارزې توان له لاسه ورکوي.

په همدې حال کې د ایران د چارو ځینې کتونکي وایي، د ایراني چارواکو د راپور ورکولو چارې شفافې نه دي او ممکن له ورکړل شویو شمېرو زیات کسان پر کرونا اخته وي.


کرونا ویروس چې اوسمهال د نړۍ نږدې ۱۳۰ هېوادونو ته رسېدلی، د پراخېدو په حال کې دی، خو په اکثرو هېوادونو کې د ویروس د لا خپرېدو مخنیوي ته جدي تدابیر نیول شوي او دغه چارې ورځ تر بلې گړندۍ کېږي.

## د کتـــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واگې په لاس کې واخله!
### لومړی څپرکی




له دې واقعیت څخه مخ اړولو په تاریخ کې اقتصادي پرمختگ ته لارې پرانیستې. د درې نیمو لسیزو په اوږدو کې د امریکا منځنۍ طبقې خلکو پرمختگ وکړ. د ډالر په سقوط کېدو د ملکیتونو او نورو توکو ارزښت اسمان ته وخوت او له عادي خلکو میلیونران جوړ شول. ناڅاپه هر چا، هر چېرې او هر وخت د اعتبار کارټونو (Credit Cards) ته لاسرسی وموند. د کریډیټ کارټونو د پور ادا کولو لپاره یې له خپلو کورونو څخه گټه واخیسته. څومره چې یې کولی شوای، دومره پور یې واخیست.

**ایا د ملکیت ارزښت تل زیاتېږي؟**

بلکل نه، تر (۲۰۰۷م) پورې موږ دې مالي بوغۍ ته دومره گرمه هوا ورکړه چې ارزښت مو یې ډېر کم کړ. په میلیونونو خلکو د تقاعد حقوق، دندې او د ۴۰۱ سپما له لاسه ورکړه. د هغو خلکو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي چې له بېوزلۍ سره مخ دي او د هغو خلکو شمېر هم خورا په چټکۍ پورته ځي چې تر ٦٥ کلنۍ وروسته کار کوي.

د شلمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې جنرل موټرز د امریکا تر ټولو لوی او قوي شرکت و. رسنیو د دې شرکت د مشر له خولې یوه خبره واخیسته چې بیا په شعار بدله شوه:((که جنرل موټرز شرکت جاري وي، نو امریکا به روانه وي.)) دغه شرکت په (۲۰۰۹م) کې دیوالیه او لیلام ته ورکول شو. په همدغه کال کلیفورنیا ایالت خپل پورونه د پیسو پر ځای په «IOUS» ادا کړل، یانې د پیسو پر ځای به یې ضمانت لیکونه ورکول. همدا اوس د هغو امریکایانو شمېر ورځ په ورځ کمېږي. دوی خپل کورونه پلوري. اوس تر بل هر وخت کرایې لوړې شوې دي. د برابر اقتصاد لرونکې کورنۍ کمېږي. د منځنۍ طبقې کورنۍ له منځه ځي. خلک بېخي لږ یا هېڅ سپما (Saving) نه کوي. کورنۍ په پورونو کې ډوبې دي. د هغو خلکو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي چې په بېوزلۍ کې ژوند کوي. د هغو خلکو شمېر هم خورا په چټکۍ ډېرېږي چې تر ٦٥ کلنۍ وروسته کار کوي. د دیوالیه‌توب گراف پورته شوی او زیات امریکایان د تقاعد لپاره هېڅ هم نه لري.

**ایا دغه منفي خبرونه ستاسو پام را اړوي؟**

خامخا به یې را اړولی وي. امریکایان چې هر چېرته وو، بلاخره متوجه شول. له لټۍ څخه یې توبه ایستلې. دا ډېره ښه خبره ده! اوس له خوبه را پاڅېدلي او پوهېږي چې څه کیسې دي. راځئ ژور فکر وکړو او حللاره ومومو.

**دا نوې پېړۍ ده!**

چې ماشوم وم، مور او پلار مې د بریالیتوب هغه فارموله راوښوده چې ستاسو هم زده ده. «ښوونځي ته ولاړ شه. سخت درس ووایه او ښه نومرې واخله، نو ښه، ډاډه او ثابته دنده به ترلاسه کړې. ښه امتیازات به لري او همدغه دنده به دې ژوند ساتي.» اصلاً دغه د صنعتي انقلاب (Industrial Revolution) د وختونو فکر دی.

موږ نور په هغه وخت کې نه اوسېږو. ستا دنده، ستا ساتونکې نه ده. دولت ستا ساتونکی نه دی. موږ په یوه نوې پېړۍ کې اوسېږو. قوانینو تغییر کړی دی. مور او پلار مې د دندې پر مصئونیت، تقاعد، ټولنیز محافظت (Social Security) او روغتیایي بیمې باور لاره. خو اوس دا ټول منسوخ او له منځه تللي دي. ناکاره او زړې نظریې په تېرو وختونو کې پاتې شوې دي. د دندې مصئونیت اوس مسخره ښکاري. لکه څوک چې اوس د ټایپ له ماشینه کار نه اخلي، همداسې ټول عمر د یوه شرکت لپاره کار کول له منځه تللي دي. زیاتو خلکو فکر کاوه چې ۴۰۱ د تقاعد پلانونه ښه او خوندي دي. څه ستونزه نشي پېښېدای؛ خو ومو لیدل چې هرڅه له ستونزو سره مخ شول، څکه د ټولو سهامي او پلور شرکتونو او پانگونو شا ته یوه گډه سرمایه پرته وه، کله چې تاوان راغی، ټول له ستونزو سره مخ شول. د تقاعد حق، د دندې خوندیتوب او د تقاعد تامین ټول د صنعتي انقلاب د وخت فکرونه وو. اوس د اطلاعاتو او معلوماتو وخت دی. موږ باید د معلوماتو د وخت فکر ولرو.


له ښه مرغه، اوس خلک غوږ نیسي او زده کړه کوي. تر سختۍ او درد گاللو وروسته درس اخیستل ډېر د مایوسۍ وړ دی؛ خو له بله اړخه خبرو ته غوږ اېښودلو او له ناخوالو او تېروتنو څخه زده کړې د درس اخیستلو اغېز زیات کړی دی. هروخت چې لوی بحرانونه او زیانونه پېښېږي، لکه د ډاټ کام (Dot-Com) شرکتونو تاوان، د سمپټمبر تر یوولسمې وروسته اقتصادي بحران، د(۲۰۰۸م) مالي تاوانونه او د (۲۰۰۹م) اقتصادي سقوط، نو خلک دې ته متوجه کېږي چې د دندې خوندیتوب بیخي نشته.

د خصوصي شرکتونو کیسه نوره ختمه ده. په خصوصي شرکتونو کې د زیات کار او پرمختگ پر وخت یوه شي ته متوجه شوي یاست؟ تاسو چې هرڅومره پرمختگ وکړئ، بیا به هم د یو چا شا ته ولاړ یاست. د شرکت مشر تل تر تاسو مخکې روان وي او د ټولو گټو، شهرت او لاسته راوړنو کریډیټ هغه اخلي.

**دوام لري...**

# هیروډېټ

شفیق امیرزی



هیروډېټ د نړۍ لومړنی تاریخ لیکونکی بلل کېږي. نوموړی یوناني تاریخ لیکونکی دی چې په یوناني ژبه یې د خپلو سفرونو په اړه لیکل کړي دي. دی همدا راز د نړۍ لومړنی تاریخ لیکوال بلل کېږي چې اثار یې تر موږ پورې را رسېدلې دي. هیروډېټ د پخوانیو لیکوالانو په څېر نه و چې د کتاب په سر کې یې هر څه د ځان په اړه لیکلي وی. ده خپل کتاب د یونانیانو پر جگړو لیکلی دی او په دې جمله یې پیل کړی: «د هیروډېټ هالیکارناسي موخه د دې کتاب له لیکلو دا ده چې د انسانانو او په تېره د یونانیانو په لاس ته راوړنو او له بربریانو سره د دوی پر جگړو او لاملونو یې خبرې وکړي، څو دا هر څه نورو ته روښانه شي.» د هېرودت د ژوند په اړه معلومات ډېر نیمگړي دي، څکه ده د ځان په اړه ډېر څه نه دي ویلي.

هیروډېټ د خپل عمر ډېره برخه په یونان او اوسنۍ ایټالیا یا پخواني روم کې تېره کړې ده، خو سره له دې هم له آریایي فرهنگ سره بلد کس و. د دې بلدتیا لامل دا و چې له آریایي ځمکو په تېره اوسني ایران یرغلگرلو پر یونان بریدونه کول او یا به هلته مېشتېدل. له همدې امله دی دې ته وهڅېد چې سفرونه وکړي او د نړۍ د بېلو فرهنگونو او خلکو په اړه خپل نظر شریک کړي.

هیروډېټ په یوناني ژبه هیرودوتس لیکل کېږي چې د پیدا کړل شوي په مانا ده. دی د نړۍ تر ټولو پخوانی یوناني تاریخ لیکوال دی. هیروډېټ او کورنۍ یې له یونان اوسنۍ ایټالیا ته کډه کوي او هلته ژوند کوي. د ده کورنۍ د دې سیمې له اشرافو گڼل کېږي او خلک ورته درناوی لري. دی له لوړ او مرفه ژوند برخمن و او له لیک لوست سره یې اړیکه وه. په هېواد کې یې د سیاسي وضعیت او ځینو گډوډیو له امله اړ کېږي چې خپل هېواد پرېږدي او د یونان ساموس جزیرې ته لاړ شي.

تر میلاد پنځه پېړۍ مخکې یونانیانو پر خپل تاریخ او خلکو ډېر خرافاتي باور درلود. دوی خپلو حاکمانو ته د خدایانو په سترگه کتل او د دوی درناوی به یې کاوه. له همدې امله یې پر تاریخي حقایقو د باور پر ځای پر اسطوروي تاریخ باور کاوه. یونانیانو ته خپل ځان سپېڅلی ښکارېده او د هر څه لپاره یې خدایان لرل. په همدې پېړۍ کې تر ډېره تاریخ د شاعرانو په افسانو او اسطورو کې خوندي کېده. د دې پېړۍ په جریان کې تحولات هم رامنځ ته شول او خلک ورو ورو له دې راوتل چې د اسطورو پر ځای پر عیني واقعیتونو باور وکړي. لومړنی کس چې د دې کار لپاره یې هڅه وکړه، هکاته نومېده. ده کوښښ وکړ چې اسطورې او تاریخ له یو بل بېل کړي، ده دومره جدي کار ونه کړ، یوازې یې د یونان د تاریخ ځینې برخې توضیح کړې. ده غوښتل راتلونکي نسلونه د اسطورو او یوناني خدایانو په اړه هغه څه ولولي چې ده لیدلي او واقعیت دی.

تر میلاد مخکې پنځمه سلیزه د یونان په تاریخ کې طلایي دوره گڼل کېږي، څکه خلک ورو ورو له اسطورو راوتل او عیني واقعیتونو ته متوجه کېدل. ولسواکي، لیک لوست، منظم قضایي سیسټم، د فرهنگ غوړېدا او دې هر څه نوی رنگ خپل کړ. د شعر تر څنگ نثر هم مینه وال پیدا کړل او دا هڅې پیل شوې چې د یونانیانو ژوند له تصوراتو راووځي او ډول ډول خیالي افسانې یوازې د خوند لپاره وکارول شي، نه د باور او عقیدې لپاره. د پریکلیس په وخت کې تاریخ لیکنه ښه سمه وغوړېده او د خلکو مینه ورسره زیاته شوه. د همدې واکمن پر وخت د تېرو پېړیو د انسانانو او شخصیتونو په اړه څېړنې پیل شوې او د تېر تاریخ پلټنې ته کار وویل شو. له همدې سره هیروډېټ د تواریخ یا تاریخونو (Histories) کتاب په لیکلو سره د لومړني تاریخ لیکوال په توگه د تاریخ لیکل پیل کړل. دا همغه لار وه چې وروسته بیا نورو یوناني تاریخ لیکوالو لکه کسونفون، دموستن، اپلاتون، ارستو او د آتن نورو پوهانو تعقیب کړه. د یوناني تاریخ لیکنې ډېر تمرکز پر سیاسي، نظامي، ډیپلوماټیکو او دې ته ورته مسایلو راڅرخېده، دوی بیا له بده مرغه ټولنیز تاریخ او د خلکو کړه وړه نه ثبتول.

د هیروډېټ د تاریخ کتاب (تاریخونه یا تواریخ) نومېږي. دا د نړۍ لومړنی لاس ته راغلی تاریخ دی. په دې توگه نو هیروډېټ ځان ته د تاریخ د پلار لقب ځانگړی کړی دی. په دې کتاب کې یې په نړۍ کې د بېلو ملتونو د فرهنگ، دودونو او ادابو په اړه غږېدلی دی. کتاب په نهو برخو وېشل شوی دی. سره له دې چې هیروډېټ پخپله دا کتاب په برخو برخو نه دی ویشلی، خو د رینسانس پر مهال دغه کتاب په دې برخو وویشل شو او موضوع ته په کتو نومونه ورته غوره شول. په دې توگه لوستونکي ته د کتاب لوستل او د خپلې اړتیا موضوع ته ورتلل اسانه شوي دي. د دې کتاب له نهو برخو درې یې د کوچنۍ اسیا، مصر، ایران، سوریې او نورو نږدې سیمو په اړه دي. په نورو برخو کې یې هم د نورو ملتونو او د ایران- یونان پر جگړو خبرې کړې دي. هیروډېټ د خپل کتاب په سر کې لیکي: «هیروډېټ غوښتي چې د هالیکارناسوس د ځمکې په اړه د خپلو تحقیقاتو پایلې شریکې کړي. هدف دا دی چې د روزگار وضعیت او بشري پېښو غورچاڼ وراندې شي. د یونانیانو او غیر یونانیانو شهرت، لاس ته راوړنې او کړنې باید وساتل شي. په دې کتاب کې مې د یونانیانو او غیر یونانیانو تر منځ پر جگړو او کشمکشونو هم خبرې کړې دي.»

ځینې په دې باور دي چې هېروډېټ ډېرو سیمو ته سفر وکړ. خو ځینې نور بیا وایي چې هغه لږو ځایونو ته سفر کړی، خو د نورو ډېرو سیمو په اړه یې معلومات خیالي او فولکلوریک دي. یا هم هغه کیسې او افسانې دي چې له خپلو شاوخوا خلکو یې اورېدلې دي. ویل کېږي چې ده په ایران، بابل، مقدونیه، مصر، فنیقیه او نورو سیمو کې حضور درلود. ځینې بیا وایي چې هغه ایران او بابل ته له سره تللی نه دی. د ډېرو سیمو په اړه یې روایي مسایل راوړي دي، لکه د مصر په اړه چې خبرې کوي، نو هغه خبرې کوي چې د تېبس او نورو ښارونو د خلکو له خولې یې خبرې کړې دي. پخپله یې د خپلو سترگو لیدلی حال نه دی ویلی. ځینې څېړونکي بیا پر هېروډېټ نیوکې کوي چې گواکې په لوی لاس یې د ځینو ملتونو او خلکو په اړه فولکلوریک معلومات را اخیستل. ده څکه دا کار کاوه چې یا خپلې نظریې ته ورته مسایل مطرحه کړي او یا هم د هغو ملتونو په اړه جعل وکړي، غلط معلومات خپاره کړي چې د ده تبه ورسره نه لگېده.

پر ده دا نیوکه هم ده چې آن غیر عقلي موارد یې هم لیکلي دي. په دې مانا، داسې موارد یې لیکلي چې عقل یې هم له منلو انکار کوي. لکه دی په یوه ځای کې داسې مېږیان یادوي چې تر سپي لوی دي او د ایران پادشا دغه ډول څو مېږیان لري. د اریانا په ځمکو کې پر دې مېږیانو کانونه ایستل کېږي. دا خبره عقل نه مني او نه هم د بشر په تاریخ کې داسې څه تېر شوي دي. هیروډېټ په ډېرو برخو کې پر خرافاتو هم سخت باوري دی او له فکر کولو پرته یې مني. کله کله بیا داسې هم وایي، څه مې چې اورېدلي، لیکم یې، اړ نه یم چې پر ټولو شیانو باور ولرم.

د هیروډېټ د تاریخ لیکلو تگلاره روایي ده. له روایتونو او فولکلوري معلوماتو استفاده کوي. ده د خلکو روایتونه کتلي دي، پرتله کړي یې دي. بیا یې هغه روایت ترې انتخاب کړی چې حقیقت ته یو څه نږدې وو. په پای کې سره له دې چې څو روایته ورته معلوم وي، یو یې را اخیستی دی او په خپل تاریخ کې یې لیکلی دی.

د هیروډېټ په کار او ژوند کې د هغه د کورنۍ اغېز هم لیدل کېږي. د ده تره یا د تره زوی چې په اړه یې د نظر اختلاف دی، حماسي شاعر و. هغه پانیاسیس نومېده. د هالیکارناس له خپلسري او ظالم حاکم سره یې اختلاف درلود او پر وړاندې یې مبارزه کوله. د دې مبارزو نور جزیات نشته، خو یوازې دومره معلومات شته چې پانیاسیس په اعدام محکوم شو او هېروډېټ هم ساموس جزیرې ته تبعید شو. د ده تره په ۹ زره بیته کې د هراکلس د پهلوانیو او مبارزو کیسې کړې دي. ده هم له همدې امله تر ډېره افسانوي مسایل را اخیستي دي او د هغو پادشاهانو ستاینه یې کړې چې د ده خوښ وو. د هېروډېټ په تاریخ لیکنه کې د هغه د ژوند چاپېریال هم شریک و. هالیکارناس یې د زیږېدو ځای دی. د سرامیک خلیج په مخه کې اباده سیمه ده. تر څنگ یې د یونان نورې جزیرې پرتې دي. دا جزیرې د ډاکټرانو د صنفي اتحادیو د اوسېدو او فعالیت سیمې وې. دوی به دلته راتلل او د خپل باور له مخې به یې د درملنې د خدای آسکلیپیوس عبادت کاوه. نو له همدې امله کله چې هیروډېټ د درمل او دوا په اړه غږېږي، خپل عقاید هم پکې گډوي.

هیروډېټ له سیاسي لحاظه د اتن مشهور سیاستوال پریکلس ته عقیدتمن و. له همدې امله یې د آتنیانو او پریکلس د کړنو ستاینه کوله. هغه څه به یې ستایل چې آتنیانو کول. سره له دې چې د سپارتیانو له اختلاف سره به مخ و، خو ده د اتنیانو ټولې کړنې ستایلې. ان هغه څه یې په کتاب کې نه لیکل چې د آتنیانو او اتن د حاکم له کړنو سره مخالف وو. دی د خپل ایډیال سیاستوال مخالفان غندي. دوی په ښه نامه نه یادوي او د مخالفتونو غندنه یې کوي. په آثارو کې واضح ښکاري چې ځان د آتنیانو ملاتړی بولي او حقایقو ته په دې برخه کې دومره ارزښت نه ورکوي.

له مذهبي اړخه هم هیروډېټ د یونان خدایانو او الهه وو ته درناوی درلود. ده پر تاریخ د یوناني خدایانو حکمرایي منله او ویل به یې هر څه له آتن اداره کېږي. دی کوښښ کوي چې په ځینو تاریخي پېښو کې د خپلو مذهبي مفکورو د گډولو لپاره پلمې وپلټي او هغه پکې ورشریکې کړي. د ځینو پېښو لپاره یې له همدې امله پر اسطورو تکیه کړې ده او هڅه یې کړې چې له یوناني خدایانو په هره ممکنه ښه دفاع وکړي.

له دې هر څه سره سره، هیروډېټ د نړۍ د تاریخ د پلار په نامه مشهور دی. هغه لومړنی کس دی چې د بشریت د بېلو ملتونو په اړه یې لیکل کړي دي او د هغه کتاب لاس ته راغلی دی. هیروډېټ لیکل کړي دي، خو دا چې څه ډول لیکل، په اړه یې پوهانو او څېړونکو خپل نظریات شریک کړي دي. پر کتاب یې، پر سبک یې، پر تگلاره یې، پر حقیقت او غیر حقیقتوالي یې ډېرې او لسگونه لیکنې او مقالې لیکل شوې دي. د نړۍ ډېری تاریخ لیکوالانو او پوهانو د ده له اثره د خپلو ځینو نظریاتو په سپړلو او پراختیا کې گټه اخیستې ده. د افغانستان په تېره پښتنو لیکوالانو هم د هیروډېټ پر فعالیتونو، ژوند او تاریخ لیکنې او نقدونه کړي دي چې په مجلو او کتابونو کې چاپ شوي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٠٥ |
| € | ٨٣,٦٠ |
| Rp. | ٤٨٤ |
| ₹ | ١٠٠٠ |
| ¥ | ١٠,٣٠ |
| £ | ٩٣ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
کرونا
166
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# له نامنطقي کسانو سره د مقابلې لپاره اووه کلیدي لارې

ژباړه: عطامحمد میاخېل



هرومرو به په ژوند کې تاسو هم له بې منطقه کسانو سره په اړیکه کې وی. بې منطقه افراد په کار ځای، کور، ورزشي لوبغالي او په نورو ځایونو کې ستاسو ترڅنګ دي. که له دې کسانو سره د چلند پر تګلارو باندې پوه نه شی، نو په اعصابو باندې به مو ډېر بد اغېز وښيندي، خو واقعاً له بې منطقه کسانو سره د چلند ډول څه دی؟

په دې لیکنه کې له بې منطقه کسانو سره د چلند په اوو لارو چارو باندې خبرې کوو. البته ښايي له دې حللارو څخه هره یوه یې په بې منطقه کسانو باندې اغېزه ونه لري، نو غوره ده چې له دغو کسانو سره د چلند ډول له خپلو شرایطو او حالاتو سره سم وسنجوی او له ځانه غوره چلند ښکاره کړی.

**۱ - خپله آرامتیا وساتی**

د آرامتیا ښېګڼې: د ځان کنټرولۍ پیاوړتیا او د ستونزې له سترېدو څخه مخنیوی.

**څنګه آرامه واوسو؟**

له بې منطقه افرادو سره د اړیکې لپاره تر ټولو مهم ګام، د ذهن آرامه ساتل دي. هرڅومره چې نرم غبرګون ښکاره کړی، نو په ښه توګه کولای شی چې شرایط وسنجوی او مدیریت یې کړی.

کله چې د بې منطقه کس له چلند څخه غوسه کېږی، مخکې تر دې چې غبرګون ښکاره کړی او وروسته پښېمانه شی، نو ژوره ساه وباسئ او تر ۱۰ پورې حساب وکړئ. ډېری وخت مخکې له دې چې لسمې شمېرې ته ورسېږی، له بې منطقه فرد سره د چلند لپاره به د حل لاره پیدا کړی. دا هماغه د حل لاره ده چې د ستونزې له ډېرښت او شدت څخه مخنیوی کوي او تاسو یوې ښې پایلې ته رسوي. که تر ۱۰ پورې مو وشمېره او آرامه نه شوی، نو خپل ځان ته ډېر وخت ورکړئ او وروسته له دې چې آرامه شوی، د ستونزې د حل په لور لاړ شی.

**۲ - له بې منطقه فرد څخه واټن واخلئ**

د دې کار ښېګڼې: ډېره آرامتیا او د اختلافاتو کمښت

**څنګه د باز په څېر والوزو؟**

اړتیا نشته چې له ټولو سره بحث او شخړه وکړی، خپل وخت ته ډېر زیات ارزښت ورکړئ، که موضوع دومره مهمه نه وه، نو هېڅ اړتیا نشته چې له بې منطقه او منفي فکر لرونکي فرد سره بحث او مخالفت وکړی. یو مشهور متل دی چې وایي: «که له فیل مرغ سره واوسی، نو نه شی کولای چې د باز په څېر الوتنه وکړی.» د بې منطقه کسانو لوری هر څوک کېدلی شي، صمیمي ملګری یا د کورنۍ غړی مو، مهمه دا ده چې له دې کسانو سره د چلند په ډول باندې پوه شی. ډېری وخت هڅه وکړئ چې شاوخوا ته مو دا ډول کسان نه وي او له هغوی سره اړین واټن وساتئ.

**۳ - مخکې تر دې چې غبرګون ښکاره کړی، زغم ولرئ**

د دې کار ښېګڼې: د ستونزې د حل لپاره تمرکز او د ناسمپوهاویو کمښت که د بې منطقه کس خبرې مو ځوروي، نو حوصله وکړئ. مخکې تر دې چې غبرګون ښکاره کړی، ستونزې ته له بېلابېلو اړخونو وګورئ او هڅه وکړئ چې د موضوع په تړاو بېلابېل غبرګونونه په پام کې ونیسئ. د بېلګې په توګه، کله مو چې همکار ستاسو پیغامونو ته ځواب نه ورکوي، ژر مه غوسه کېږئ. د دې چلند لپاره بېلابېل دلیلونه شته. په پیل کې باید ټول احتمالونه په پام کې ونیسئ، ښايي هغه ډېر زیات بوخت وي او ټولو پیغامونو ته د رسېدو لپاره یې وخت نه وي پیدا کړی، چټک غبرګون مه ښکاره کوئ او هرڅه ته په خپل ځان پورې تړاو مه ورکوئ. که هڅه وکړئ چې مسایل شخصي نه کړی، نو د شاوخوا خلکو غبرګونونه به مو ډېر کم ستاسو لپاره ځوروونکي وي.

حقیقت دا دی، د افرادو کړنې او نیت، مخکې تر دې چې په تاسو پورې تړاو ولري، د خپل ځان په پام کې نیولو سره تر سره شوي دي، نو ستاسو د ځورونې قصد یې نه و، که وکولای شی له مسایلو سره شخصي چلند پرېږدی او د هغو په اړه پراخ لید ولری، ډېری خواشینۍ، اندېښنې او ناسم پوهاوي له منځه ځي. له بې منطقه کسانو سره د چلند لپاره بله تګلاره دا ده چې خپل ځان د هغوی په ځای وګڼئ، نو که د یوې دقیقې لپاره هم وي، خپل ځان د هغوی په ځای وګڼئ، څو د هغه شرایط او حالت په ښه توګه درک کړی.

د بېلګې په توګه: «زوی مې ډېر پیاوړی دی؛ خو دا ورته آسانه نه ده چې په ښوونځي کې له ټولنیزو فشارونو سره مخ شي.»

البته دا چې خپل ځان د نورو په ځای وګڼئ او هغه درک کړی، په دې مانا نه ده چې د هغه له غیر منطقي چلندونو څخه سترګې پټې کړی. له بې منطقه کسانو سره په چلند کې مهم ټکی دا دی، په یاد مو وي چې ډېری وخت په قصدي توګه ستاسو د ځورولو موخه نه لري، هرڅومره چې ډېر منطق ولری، هومره په آسانه توګه دې ته متوجې کېږی چې د بې منطقه کسانو چلند له کومه ځایه سرچینه اخلي. په دې صورت کې په ښه توګه کولای شی له هغو سره ور چلند وکړی او ستونزې مو لرې کړی.

**۴- له بې منطقه کس سره د مبارزې په فکر مه اوسئ**

د دې کار ښېګڼې: په وخت او انرژۍ کې سپما، ډېره آرامتیا او له نا اړینو ستونزو څخه مخنیوی

له بې منطقه کسانو سره په چلند کې تل شرایط یو ډول نه دي، اړینه نه ده چې تل هغوی ته قناعت ورکړی یا له هغوی سره مخامخ شی. دوه موقعیتونه شته چې غوره ده تېرېدنه ترې وکړئ او د بې منطقه کس له څنګه تېر شئ. لومړی موقعیت هغه مهال دی چې له بې منطقه فرد سره تل پاتې اړیکې نه لری او په هغه پورې مو کار بند دی. د بېلګې په توګه، د یوه شرکت د مشتریانو له استازي سره په ټیلیفون کې خبرې کوی او د خپلې ستونزې لپاره له هغه سره چانه وهی، وروسته له دې چې ټیلیفوني اړیکه پرې کوی، نو له دې فرد سره به هېڅ اړیکه ونه لری او حتی د هغه شرکت د مشتریانو له خدماتو سره په یو ځل بیا اړیکې سره، له بل استازي سره به خبرې وکړی.

اړینه نه ده چې خپل وخت بېځایه تېر کړی او له دې فرد سره بحث او شخړه وکړی. دویم موقعیت هغه وخت دی چې له هر غبرګون وړاندې ښه فکر وکړئ. کله چې مو همکار بې منطقه وي او له هغه سره له اړیکې لرلو څخه هېڅ خوند نه اخلی، په خپل کار کې پوه دی، ستاسو کار د هغه ترڅنګ له اوسېدو سره تړاو لري او دغه راز د هغه همکارۍ ته اړتیا لری، نو زغم ولرئ او دا ټکی په پام کې لرئ چې بې منطقه کسان هم ډېرې زیاتې ښې ځانګړتیاوې لري او باید د هغو له همکارۍ څخه ګټه واخلئ.

یوازې باید پوه شئ چې څنګه په ښه توګه او ورین تندي ورسره چلند وکړی، څو کوم څه مو په زیان تمام نه شي، نو په دې دوو موقعیتونو کې زغم ولرئ او له هر ډول غبرګون څخه مخکې شرایط وسنجوئ. په پیل کې له ځانه وپوښتئ، واقعاً اړینه ده چې بحث او شخړه وکړی؟ غوره ده چې آرامه واوسئ او په حساسو ځایونو کې غبرګون ښکاره نه کړئ.

**۵ - د مقابل فرد او مسئلې تر منځ توپیر وکړئ**

د دې کار ښېګڼې: د اړیکېزو مهارتونو ښه کېدل، د ستونزو د حل ځواک ډېرښت او د همکارۍ او درنښت رامنځ ته کول

کله چې له کوم کس سره ستونزه پیدا کوی، دوه عناصر شته: هغه اړیکه چې له فرد سره یې لری او هغه مسئله چې پرې بحث کوی. هغه کس چې له خپلو شاوخوا خلکو سره ښه اړیکه ټینګوي، هغه په ښه توګه پوهېږي چې باید د موضوع او ستونزې تر منځ توپیر وکړي. د بېلګې په ډول، زه غواړم چې د ستونزو په اړه مې خبرې وکړم، خو کله چې چیغې وهم، خبرې کول هېڅ ګټه نه لري، راځه چې په کراره خبرې وکړو یا خپل ځان ته لږ وخت ورکړو او وروسته ورته حللاره پیدا کړو. کله چې له مقابل لوري سره په کراره او منطقي خبرې وکړی، نو ډاډه اوسئ چې خبرې به مو اغېز وکړي.

د ستونزې د حل لپاره لا ډېر جدیت ولرئ، آرامه اوسېدل او له ستونزې څخه د فرد جلا کول، تاسو به د ستونزې په حل کې پیاوړي کړي.

**٦ - توپ د هغه ځمکې ته ور وغورځوئ**

د دې کار ښېګڼې: په اړیکو کې د توازن د ځواک رامنځ ته کول او د غیر منطقي چلندونو کمښت

بې منطقه او په ځانګړې توګه غوسه ناک او تهاجمي افراد، د بحث تمرکز په تاسو باندې ږدي او په دې کار سره ستاسو د خواشینۍ او خپګان سبب ګرځي. دا افراد تل په دې لټه کې دي چې نیمګړتیا ستاسو په غاړه در واچوي او د ستونزې د حل پر ځای د نیمګړتیاوو په لټه کې دي. په دې صورت کې په هېڅ وجه ستونزه نه حل کېږي، که اغېز منونکې کړنې تر سره کړی، نو ټوله نیمګړتیا ستاسو په اوږو باندې بارېږي او مقابل لوری په چټکۍ سره خپلې اوږې تشوي. په پای کې تاسو نیمګړی او ګرم ښکاره کوي، په دې وخت کې باید توپ د هغه ځمکې ته ور وغورځوئ.

له بې منطقه کسانو سره د مقابلې تر ټولو غوره لاره د پرله پسې پوښتنو پوښتل دي.

بې منطقه فرد: «کوم غوښتنلیک دې چې ولیکه، اصلاً هغه څه ته ورته نه دی کوم چې زه ورته اړتیا لرم.»

تاسو: «هغه څه ته چې اړتیا لرې، ماته دې وویل؟»

بې منطق: «واقعاً چې...

تاسو: «که ماته بې احترامي وکړې، نه غواړم چې نورې خبرې درسره وکړم، ژر زما ستونزه روښانه کړه چې پوه شم، پاتې شم او که لاړ شم؟»

جوړوونکې پوښتنې وکړئ او د بې منطقه غوسه ناک فرد لپاره وضعیت روښانه کړئ. کله چې خبره روښانه وي او توپ له خپلې ځمکې څخه بهر کړی، نو بې منطقه فرد نه شي کولای چې تاسو ګرم وګڼي او ستاسو پر وړاندې له زور څخه کار واخلي.

**۷ - له طنز څخه ګټه واخلئ**

د دې کار ښېګڼې: د بې منطقه فرد بې وسلې کول، د آرامتیا او ځواک ښکاره کول او له مقابلې او تهاجم څخه مخنیوی

په اړیکو کې طنز یوه ځواکمنه وسیله ده، نو ډېر ژر مه خواشیني کېږئ. هڅه وکړئ چې په طنزي خبرو سره فضا خوشاله کړی. که داسې یو همکار لری چې کبرجن او ځان غوښتونکی دی، خندوونکې خبرې وکړئ او فضا ته بدلون ورکړئ. کله چې د سهار له مخې هغه ته سلام او ورسره ستړي مه شي کوی، خو ډېر پام درته نه کوي، مه خواشیني کېږئ. له خندورو ټوکو څخه کار واخلئ، هڅه وکړئ چې خپله اړیکه ورسره نږدې کړئ، ډاډه اوسئ چې دا ډېره ښه تګلاره ده او پایله ورکوي او د هغه ترڅنګ له اوسېدو څخه به خوند واخلی. له مؤدبانه طنز څخه ګټه واخلئ چې آرامتیا او کنټرول مو ښکاره کوي. طنز او نرمې ټوکې، د بې منطقه فرد پر وړاندې یوه ښه او اغېزمنه تګلاره ده او د دې سبب ګرځي چې بې وسلې شي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وايګل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO.
WAYGAL Printing Co.
غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۷مه | ۵۳۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۲۲ | ۲۴ | ۲۶ | ۲۵ | ۲۱ |
| ۵ | ۱۰ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۸ | لمر ختل ۰٦:۰۲ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰۳:۲۸ | ماښام ۰٦:۰۳ | ماخوستن ۰۷:۲۷

# نبیل: پس از بحران انتخاباتی در شمال و برخی ولایت‌های دیگر سلاح توزیع می‌شود



رحمت‌الله نبیل، یکی از نامزدان ریاست جمهوری پیشین دیروز در نشست خبری‌یی در کابل با نگرانی از بحران سیاسی کنونی گفت که در گفت‌وگوهای صلح یک مثلث به میان آمده است و هر گروه می‌خواهد که روند صلح را در گرو خود گیرد.

به گفتهٔ آقای نبیل، هیچ طرف دخیل در روند صلح صادق نیست و حکومت هم مشروعیتی ندارد تا از تمام مردم افغانستان در گفت‌وگوهای صلح نمایندگی کند. وی می‌افزاید، توافق صلح با گروه طالبان با یکی از طرف‌ها سبب ناکامی روند صلح خواهد شد.

آقای نبیل در این نشست گفت که در شمال کشور و برخی ولایت‌های دیگر سلاح توزیع می‌شود.

او افزود: «در شمال برخی‌ها بخاطری سلاح توزیع می‌کنند که گویا در حق‌شان بی‌عدالتی شده است. اگر چنین اقداماتی صورت می‌گیرد، این پالیسی یک تیم انتخاباتی نیست. در چهل سال جنگ گذشته در خانهٔ هر کس اسلحه است. شاید حلقات خارجی و شاید فرماندهان محلی و حلقات خارجی دست دارند، اما برای تان گفته می‌توانم که سلاح توزیع می‌شود و توزیع شده است.»

به گفتهٔ آقای نبیل، اگر تمام سیاسیون و طرف‌ها در گفت‌وگوهای صلح متحد نشوند، روند صلح ناکام خواهد شد و اختلافات درونی سبب خواهد شد که برخی گروه‌های نیابتی از سوی کشورهای همسایه به حمایت از جریان‌ها و اقوام مختلف وارد جنگ شوند.

اما نور رحمان اخلاقی، عضو شورای رهبری حزب جمعیت اسلامی توزیع سلاح از سوی تیم حامی عبدالله عبدالله، مدعی پیروزی انتخابات ریاست جمهوری را رد می‌کند.

## نړۍ



# د روغتیا نړیوال سازمان: اروپا د کرونا ویروس د خپرېدو پر مرکز بدله شوې ده

۳

# راپورونه: په ایران کې د کرونا له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۸۵۳ ته رسېدلی

د راپورونو له مخې، په ایران کې د کرونا ویروس له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۸۵۳ ته رسېدلی دی.

د ایران د روغتیا برخې چارواکو تېره ورځ اعلان وکړ چې یوازې په تېرو ۱۲ ساعتونو کې په دغه هېواد کې ۱۲۹ تنه وژل شوي او پر یادې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر اوس ۱۵ زرو ته رسېدلی دی.

د راپورونو له مخې، په ایران کې د دې ناروغۍ له وجې له لوړو تلفاتو سره سره، بیا هم په دغه هېواد کې ورځنۍ چارې د پخوا په څېر عادي دي؛ ځکه چارواکي نه پوهېږي چې د دې ناروغۍ د خپراوي مخه په کومو لارو ونیسي. په همدې حال کې د ایران د خبره‌ګانو شورا غړی ایت‌الله هاشمي ګلپایګاني هم د دغه ویروس له کبله مړ شوی دی.

خبره‌ګان د ایران هغه ځواکمنه شورا ده چې دنده یې د مذهبي مشر غوره کول دي.

د ګلپایګاني له مړینې سره د کرونا ویروس په ناروغۍ د مړو شویو اوسنیو او پخوانیو جګپوړو چارواکو شمېر ۱۲ ته ورسېد.

۷۸ کلن ګلپایګاني دوې ورځې وروسته له هغه مړ شو چې د کرونا ویروس د ازموینې نتیجه یې مثبته راووته او دی په روغتون کې بستر شو.

# مسکو: مخالفینو په ادلیب کې له وړمې شپې راپدېخوا څو ځله له اوربنده سرغړونه کړې




د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي، سره له دې چې د سوریې په شمال کې اوربند اعلان شوی، خو مخالفینو له وړمې شپې راپدېخوا څو ځله له اوربنده سرغړونه کړې ده.

په اعلامیه کې راغلي چې د تحریر شام، حراس الدین او النصره ډلو جنګیالیو له وړمې شپې راپدېخوا د سوریې د حکومتي پوځ پر پوستو او اکمالاتي کاروانونو بریدونه کړي دي. سرچینې دغه راز زیاته کړې چې ترهګرې ډلې له اوربنده پر ګټنې هڅه کوي چې یوځل بیا د سوریې پر حکومتي سرتېرو د لویو بریدونو لپاره خپل اکمالات تر سره کړي. روسیې خبرداری ورکړی چې که د یادو ډلو له لوري ورته کوم ګواښ متوجه شي، په بېړه به یې پر وړاندې اقدامات وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د سوریې په شمال کې د ترکي او سوري ځواکونو د کړکېچ له ډېرېدو وروسته، د روسیې په منځګړیتوب په ادلیب او شاوخوا سیمو کې د مارچ له پنځمې راپدېخوا سرتاسري اوربند اعلان شوی دی. د یادونې ده چې د سوریې شمال ته د ترکي ځواکونو له ورتګ وروسته، د سوریې او ترکیې تر منځ کړکېچ زیات شو او د دواړو لورو تر منځ په نښتو کې درنه مرګ ژوبله واوښته.


## ژوند

# مشوره اخیستل مو تجربه زیاتوي



ډېری کسان په سختو شرایطو کې هم آرام وي او غواړي خپله آرامي وساتي. پوهېږئ، د هغوی د آرامۍ راز په څه کې دی؟ کله چې هغوی کولای شي، له شک پرته تاسو هم دغه چاره تر سره کولای شئ. تاسو هم کولای شئ دغه آرامتیا تر لاسه کړئ، خو په دې شرط چې پوه شئ څه ډول مثبت فکر وکړئ او پر منفي موخو خط را کش کړئ. اوږده ساه وباسئ او د ژوند اوسنیو شرایطو ته په ژوره وګورئ، له ځان سره فکر وکړئ څه ډول کولای شئ په ښه توګه له ټولو ستونزو څخه را ووځئ. ستاسو یوازینۍ دنده دا ده چې په څه ډول له دې موقعیت څخه ځان را وباسئ. که مو د را وتلو مناسبه لار پیدا نه کړه، کولای شئ له هغو کسانو مشوره واخلئ چې په دې برخه کې پوره تجربه لري، په یاد مو وي چې ستاسو دنده یوازې (د حللارې) پیدا کول دي، نه کوم بل څه.

# کرونا څه ډول ویروس دی؟



که څه هم تر اوسه پورې د کرونا ویروس په اړه ډېر معلومات په لاس کې نشته، خو بیا هم ویلای شو چې دغه ویروس لکه توپان زموږ د بدن هرې برخې ته زیان رسولای شي. دغه ویروس لکه د سارس او مرس ویروسونو په څېر له حیوان څخه انسان ته منتقل شوی دی. کرونا ویروس د خپلې کورنۍ د نورو ویروسونو چې انسان یوازې پر زکام اخته کوي، پر خلاف د انسان په ټول بدن اور بلوي او له بده مرغه چې تر اوسه پورې یې درمل یا واکسین هم نه دي جوړ شوي. همدا یې خطر ناکوالی دی چې تر اوسه پورې یې په نړۍ کې د زرګونو انسانانو ژوند اخیستی دی. که څه هم چې د کرونا ویروس مرګ ژوبله، د سارس په پرتله پنځه چنده کمه ده، خو دغه ویروس تر اوسه په چټکۍ سره د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د خپرېدو په حال کې دی. یوه هانکانګي اپیدمیولوژیست ویلي چې که یاد ویروس همداسې د خپرېدو په حال کې وي، د دې امکان شته چې د نړۍ شپېته سلنه خلک ور باندې اخته شي.

ماسټر ډېبټ کارټ
د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank